مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۹/۰۴

د لنډیو په هنداره کې د سیلاو د غمیزې ننداره

څلورمه برخه

لنډۍ، د څېړتولو ستونزه

یوسلوشپږشپږتمه برخه

سېلاو لیدلي نه یې پوښته
خړې اوبه دي د دوزخ څو پړاوونه

سېلاو لیدلي نه یې پوښته
خړې اوبه دي د دوزخ څو پړاوونه

لوی او وړوکی سېلاو ورک شه
دواړو تباه کړل زموږ کر کلي کورونه

د سېلاوونو او نورو طبعي افاتو د رامنځته کېدو په ګڼ نظریات لا پخوا وړاندې شوي وو. پوهانو او قلموالو پر دې ټینګار کاوه او کوي یې چې دا هرڅه موږ انسانانو کړې او خپل ځانته او خپل ژوند ته مو بلا بوټه کړې ده؛ خو حریص هېوادونه او نه مړېدونکي پانګوال د طبیعت په ورانولو کې ډېر ورانونکی رول لوبولی دی.

زموږ په هېواد کې د سواد د ټیټې کچې او ناو پوهۍ په وجه په دې هم څوک نه پوهېږي چې څنګه خپله انسانانه خپل چاپېریال او خپله خړې خرابوي او د پېلابېلو آفتونو د رامنځته کېدو سبب کېږي چې یو افت پکې سېلاو دی. زموږ یو چیز ههمه قلموال په ډېره خوږه او عامه ژبه همدې ستونزو او عاملینو ته یې داسې اشاره کړې ده:

«د وچکالیو، سېلابونو، طوفانونو، قحطیو، ځنګل اورونو او ورته نورو قدرتي آفاتو له کبله به په راتلونکو لسیزو کې د نړۍ دومره لوی شمېر انسانان هجرت ته مجبور سي، چې د روانو جګړو او بحرانونو د مهاجرو څخه به څو چنده زیات وي. د لوېدیځې نړۍ هیوادونه اوس لا دغه وخت ته چمتو والی نیسي او د مهاجرت او ورسره تړلو موضوعاتو په هکله پر قانوني تعدیلونو غور کوي. دغه لویې او بېساري قدرتي فاجعې ځکه انسانانو ته په انتظار دي، ولې چې پر کومه مځکه چې اوسېږي، هغه یې د خپل بېباکه، کبرجن، نه مړېدونکي او اصراف د ژوند په طرز ککړه کړې ده او اقلیم ته یې نه جبرانېدونکی زیان رسولی دی. په زیاته صنعتي او «پرمختللو» هیوادونه اقلیم ته په داسې مقدار زیان رسولی چې ټول انسانان به یې پور پرې کوي. په خپل لاس خپل ځان او د مځکې د کورې اوسېدونکو نورو ژوند کوونکو ته دغه لویه او تر فکر او فهم څخه لویه فاجعه حضرت انسان پخپله ځان ته دعوت کړېده. نه یوازې زموږ راتلونکي نسلونه بلکه موږ تاسو به پخپله په خپل ژوند کې لا د لویو قدرتي آفاتو شاهدان سو. الله دې پر انسانانو ورحمېږي او ورته فهم او درک دې ورکړي چې د خپل ژوند پر طرز له سره فکر وکړي. آمین»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډېرې هېوادونه د طبعي پېښو د مخنيوي لپاره مخکې تر مخکې کار کوي او که څه پېښې هم شي، دومره امکانات يې لا له پخوا ورته برابر کړي وي چې جبران او درملنه يې وکړي، راشه موږ ته ګوره او زموږ فکر او امکاناتو ته وګوره.

دا هم په بيل او د سيل په وراني پورې اړوند څو نوې تخليق شوې لنډۍ:

په سيلاوونو دې خدای يوسه
چې دې رمباړې څو شېبو کې غلې شينه

سېلاو مخکښته تېز روان وي
ته يې سرزورې مخ په بر وهې زورونه

ستا سرزوري سم لوی سېلاب دی
سېلاب تېرېږي ته شله يې په کلونه

پنځه وو ورونه، زېږ ګلونه
سېلاو کنډو کړل د يوې باغچې ګلونه

سېلاو له غرونو شو راکښته
لاندې يې يوړل د خوارانو خړ کورونه

سېلاو له غرونو شو راکښته
لاندې يې يوړل د خوارانو درمندونه

لوی او وړوکی سېلاو ورک شه
دواړو تباه کړل زموږ کر کلي کورونه

اوبه له پاسه تل وي خړې
سيل هم له پاسه راروان وي هرڅه وړينه

موږ به د کوم افت وير ژاړو
جګړه، قحطي اوس راروان دي سېلاوونه

سېلاو ليدلي نه يې پوښته
خړې اوبه دي د دوزخ څو پړاوونه

سېلاو مې فکر کې لا نه و
موږه ويده وو چې يې راوړل کړاوونه

تر زړه يې وينې څاڅي خلکو
سېلاو پرې راغی، ځکه وينې تويوينه

وروستي سېلاو نه مې درس واخيست
نور د باران نوم به وانخلم په عمرونه

چې د سېلاب وراني ته ګورې
بيا د جګړې ورانی به ووزي له سرونه

زما زړه هم کړم ـ کړم دی

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ته راته وايې کلی وران په سپلابونه

يو ځلې بيا که لږ راروغ شوم
سپلاو وران کړی کور به بيا ابادومه

سپلاو مې مينه رانه يوړه
اوس که دا ټوله دونيا زما شي څه بې کړمه

ټټر مې غوڅ کړه زړه مې گوره
چې درمعلوم شي په سپلاو داغلي زړونه

څوک مو له حاله نه خبرپېږي
که په لس ځلې سپلاو وران کړي زموږ کورونه

سودا مې دې ته ده جانانه
باران ورپېږي بيا به راشي سپلاونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ